مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم ۲۰۲۳/۰۵/۰۴

د اوبه سړي

«اوبه خلک»

«اوبه خلک» د استاد اجمل ښکلي تازه چاپ شوی کتاب دی چې خاکي په کې راټولي دي. دا کتاب په ننګرهار کې کلاسیک خپرندویي ټولنې په ۱۳۹۶ کې په ۱۱۰۰ ټوکو او ۷۵ مخونو کې چاپ کړی دی. خاکه یا طرحه واقعي یا ناتخیلي (non fiction) نثري ژانر دی چې د واقعي کسانو په اړه لیکل کیږي. له ژوند لیک څخه یې توپیر دا دی چې ژوند لیک د یو چا د ټول ژوند کیسه د اسنادو، شواهدو، مرکو، مشاهدو، روایتونو او اثارو له مخې لیکل کیږي او معمولاً د لیکوال عواطف په کې دخیل نه وي خو په خاکه یا طرحه کې لیکوال د یو چا انځور له خپل لیدلوري څخه کاږي. کېدای شي څوک د داسې کس ژوند لیک هم ولیکي چې هیڅ یې لیدلی نه وي خو خاکه د هغه چا لیکلی شو چې لږ ډېر وخت مو ورسره تېر کړی وي. دا ژانر له خاطرې په دې ببلیږي چې په خاطره کې یو خاص مورد بیانیږي خو په خاکه کې له یو چا سره د ناستي پاستي عمومي تأثر او د هغه په اړه د لیکوال ځُلي برداشت راغلی وي.
ما تر «اوبه خلک» مخکې د خاکو بل کتاب نه و لوستی. د کتاب نوم او پښتی دواړه په زړه پورې دي. د پښتی طرحه یې ښاغلي لمر نیازي داسې جوړ کړی چې د یوه اوبلن سړي سر، اوږې او لاسونه په کې جوت ښکاري او پاتې بدن یې لکه څڅېدونکي اوبه. استاد ښکلي د کتاب د نوم په باره کې څه نه دي ویلي چې «اوبه خلک» څه معنا؟ اوبه خلک په غالب ګومان یعني مات او د اوبو غوندې نرم خلک خو په دې کتاب کې د محمد اعظم قاري صاحب کیسه هم راغلې ده چې «کتل به یې نه چې د شاګرد کوم ځای زما لښتي ته مخامخ دی. چې په ناسته به ستړی شو، در ته و به درېږ. ملا، سر، لاسونه، کوناټي، هر څه یې در باندې شنه واړول». اوبه چې په هر لوښي کې واچوې، د هماغه لوښي شکل نیسي نو ښایي د لیکوال هدف هغه خلک وي چې د ده د عواطفو په جام کې توی شوي دي. خو دا چې استاد ښکلی په خپله د اوبو غوندې نرم او سپېڅلی دی او د دې خبرې ګواه د ده محصلان دي، ممکن دی هم خپل یاران او اشنایان همداسې وګڼي.
استاد ښکلی دغه خاکې په ښکلي هنري نثر لیکلی دی. نوې نوزي تشبیهګاني یې راوړي دي. دا یې ببلګې: «خو چې ما ته څوک راشي، نو لکه چې چا جاسوسي ته رالیږلی وي، د رشوت خور مامور غوندې د عینکو له پاسه یو ځل ما ته او بل ځل ملاقاتي ته وګوري ... اوس ور ته زه ډېر بد سړی نه ښکارم او کله ناکله را ته د یوې نیمې کیسې له پاره د خپلو کیسو د بوختې خولې راسستوي». بل مثال یې: «زه احساساتي شم خو دی مې د اېلولو له پاره را باندې هېڅکله د مشرۍ او ترولۍ وسله نه کاروي».
د کتاب په ډېرو لیکنو کې د کرکټرونو انځور په شد و مد کښل شوی دی. «ونه لکه نښتر، لکه «سم د قد نېز ور څخه». چې روان وي، لکه «ځي د جنګ په سمباله کې». غټې بادامي سترګې چې سړي ته د مغولي وخت مصورۍ وریادوي. جګه پوزه چې له جګې وني سره یې رابنکون پیدا کړی. له رنګه سور بخن سپین چې په لومړي ځل لیدو در ته کابلی ښکاري».
لیکوال د ځینو واقعیتونو یا پېښو له بیان سره شعر، متل، مقوله، تلمیح یا د بل چا وینا هم راوړي ده چې د کتاب خوند یې لا زیات کړی دی. مثلاً: «استاد صمیم ته مې یوه ورځ ویل چې استاده، دی هم د ارګ خوراک شو. هغه کړه چې «سل په لالي پوري، دا یوه پرې د بنګړو» - «سړی په رنګ نه سړی کیږي/ سړی هغه دی چې یې خوی د سړي وینه» - «خدای ښه ځواني ورکړي وه خو څه تري د کویت مسافرۍ خورلې وه او څه تري د پښتو ژبپوهنې. ځواني اوس دومره نه وه ور پاتې خو د دنګو دنګو مانیو د پاتې کندرو غوندې یې نښې نښانې لا وې چې د ده د ورک زلمیتوب

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پته يې درکوله او د احمد نديم قاسمي خبره چې خداى په استعارو کې پوهولو چې هر جلال زوال لري» - «ما ته ځان دومره مولينا نه ښکارېده، لکه څومره چې ده ته ځان شمس ښکارېده».
د استاد ښکلي په نثر کې د طنز او ظريفو ټوکو کمی نشته او يو نيم ځای خو سړی کټ کټ خندا ته هم اړ باسي. «... نو يو سرليک په کې د (کورني خبرونه) و. ورځپانه چې له چاپه راووته، په (کورني خبرونه) کې له (کورني) څخه (ر) پرېوتي وه» - «ځولی مجله مو را و ايستله چې وخت په وخت ښه شوه، ډېره ښه ... ولسمل صاحب پر موسی شفيق ليکنه کړې وه. د ديموکراسۍ د لسيزې د لومړي صدر اعظم ډاکټر يوسف په اړه يې ليکلي وو چې «کابل پوهنتون ته لاړ او محصلينو سره يې خبرې وکړې او محصلين يې وغولول». غم دا و چې د (وغولول) منځنی لام له ځولۍ پرېوتي و».
د اوبه خلک کيسي کافي تلوسه لري او چې پيل يې کړې، تر پايه پورې ځان در باندې لولي. په ډېرو خاکو کې د کرکټر نوم د ليکنې په آخر کې راځي او چې معلومات يې لولي، کله يو او کله بل پېژندګلو سترګو ته در ته درپېرې خو ستا حدس کله سم وخېژي، کله ناسم.
په خاکه کې د يو چا په اړه د ليکوال خبرې وي او کله چې څوک د بل په باره کې خپل برداشت يا قضاوت ليکي، که له يوې خوا هغه کس درپېژني نو له بلې خوا د ده د قضاوت تله در ته معلومېږي چې دی پخپله په څومره اوبو کې ولاړ دی؟ دی څه ښه بولي او څه بد؟ څرنګه انسان يې خوښېږي او څنګه کسان يې بد ايسي؟ اخلاقي معيارونه يې کوم دي او څرنګه مفکوره پالي؟ د دې کتاب په لوستلو سره سړی د استاد ښکلي په شخصيتي ځانګړنو نسبتاً ښه پوهېدای شي.
په يو نيم ځای کې خو ده خپله يوه نيمه مفکوره په ډاګه څرګنده کړې ده لکه دا: «د دې شک د پيدا کېدو لوی لامل زموږ سخت مذهبي چلند دی. زه خو وايم چې دا شک چا ته پيدا شي، مبارکي ورکول پکار دي چې سړي ايله د انسانيت په لور قدم واخيست خو زموږ خلک يې وېروي چې دا خو به ته کافر شي... که موږ اسلام حق دين بولو نو بيا ولې له شکه وېرېږو، ځکه چې شک خو را ته د اسلام حقانيت ثابتوي» - «دا څو لسيزې موږ په دې پسې يو چې خلک د ځان په رنګ کړو خو دا ممکنه نه ده چې يوه ټولنه پر يوه فکر متفقه شي. هر سړی يو بېل جهان دی خو زړونه داسې يو څېز دی چې نه غزنی ګوري او نه فکري اختلاف. زه خو وايم چې دا ويل پکار دي چې ورورکه، فکر دې په تاخچه کې کېږده، زړه دې رانژدې کړه». ما چې دا کتاب ولوست، استاد ښکلی همداسې کس را ته ښکاره شو چې د خپلو اشنايانو زړونو ته ګوري، نه يې فکرونو او نه يې خويونو ته.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ